کتاب
۴ مخ

مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د جولای لومړۍ | ۵٦۰مه ګڼه

# د امتیاز لپاره سیالي او افغان وژنه؛

## ملګري ملتونه: افغان حکومت دې د سنګین پېښه په هر اړخیزه توګه وڅېړي


۳

### د سیاسي موخو لپاره پر ملکي وګړو بریدونه
۲ مخ

### د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښنې
۲ مخ

### د افغانستان، امریکا او روسیې تر منځ څه روان دي؟
۳ مخ

## نی: په ټول هېواد کې ۹۵۳ افغان خبریالان او د رسنیو کارکوونکي پر کرونا ویروس اخته شوي دي

د ازادو رسنیو د ملاتړ اداره یا نی وایي چې د دوی د سروې له مخې، له تېرو څلورو میاشتو راهیسې تر دې اونۍ پورې ۹۵۳ افغان خبریالان او د رسنیو کارکوونکي پر کرونا ویروس اخته شوي دي.

د نی رییس مجیب خلوتګر رسنیو ته ویلي چې د کرونا له کبله تر دې دمه شپږ افغان خبریالان او د رسنیو کارکوونکي مړه شوي هم دي.

هغه زیاته کړې، د جغرافیوي موقعیت له مخې په مرکزي زون، چې کابل او شاوخوا ولایتونه پکې دي، تر ټولو زیات د کرونا په ناروغۍ اخته شوي چې شمېر یې ۵٦۰ رسېږي. له کابل نه وروسته ۱۷۱تنه په کندهار او نورو جنوبي ولایتونو کې پر کرونا اخته شوي. له هغه وروسته هرات او شاوخوا ولایتونه دي چې ۱۲۰کسان پکې پر کرونا اخته شوي او له لوېدیځې حوزې وروسته د بلخ ولایت او د دغه ولایت شاوخوا ولایتونه دي چې ۸۹تنه پکې پر کرونا اخته شوي دي.

نی له افغان حکومت څخه غواړي چې د خبریالانو ژوند او خوندیتوب ته پام وکړي او د دې لپاره چې نور خبریالان په کروناویروس اخته نشي، حکومتي چارواکي باید خبریالانو ته انلاین معلومات ورکړي.

د نی د دغې سروې څخه شاوخوا دوه میاشتې مخکې د بې پولې خبریالانو ټولنې «ار ایس اف» په افغانستان کې د کرونا پر ناروغۍ له ۷۰ څخه د زیاتو افغان خبریالانو او د رسنیو د کارکوونکو د اخته کېدو خبر ورکړی و.

## طالبان دې د خپلو بریدونو او جګړې شدت نور هم راټیټ کړي


۵ مخ

## په یوویشتمه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت




(په یوویشتمه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت) کتاب په دې وروستیو کې پښتو شوی. د کتاب لیکوال زورلوسن یوسل دی چې سید نورالله عابد پښتو کړی دی. د کتاب پښتو بڼه ۱۲۴ مخونه لري.

## په غزني کې پر نږدې څلورو زرو بزګرانو د کرنې اړونده توکي او درمل وېشل شوي



د غزني د کرنې او مالدارۍ ریاست د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې «NHLP» په همکارۍ د دغه ولایت پر درې زره او ٦۱۴ بزګرانو د کرنې اړونده توکي، درمل او تبلیغاتي کتابونه وېشلي دي. د دې مرستې په وېش غونډه کې د غزني د کرنې ریاست چارواکو ویلي، چې له دغو مرستو برخمن شوي بزګران په خپلو کرنیزو فعالیتونو کې د کرنې ریاست سپارښتنې علمي کړي او نورو بزګرانو سره یې هم شریکې کړي دي؛ ځکه یې ورسره دا مرستې وکړې. په وېشل شویو توکو کې د ونو د ښاخونو د پرېکولو اره، زینه، د درملو شېندلو لوی او کوچني پمپونه، محافظتي جامې او نور اړین توکي شامل دي. د دې ترڅنګ د یادو بزګرانو د وړتیا لوړولو په پار پر دوی د کرنې اړوند دوه زره او ۴۵۰ ټوکه کتابونه، چارتونه او بروشورونه وېشل شوي دي.

## رئیس جمهورغني: «ادارۀ بازرس» شکایات و گزارش های مربوط و مصرف منابع مبارزه با ویروس کرونا را بررسی نماید



به اساس حکم رئیس جمهورغنی، »ادارۀ بازرس«مکلف گردید تا شکایات و گزارش های مربوط به چگونگی مدیریت و مصرف منابع مبارزه با ویروس کرونا را بررسی نماید.

درخبرنامه ای دفتر مطبوعاتی سخنگوی رئیس جمهور آمده است که رئیس جمهورغنی در مورد بازرسی شکایات و گزارش ها مربوط به چگونگی مدیریت و مصرف منابع مبارزه باشیوع ویروس کرونا، حکم هفت ماده‌یی را صادر کرد.

درماده اول این حکم گفته شده است که این حکم جهت حصول اطمینان از تطبیق درست تعهدات حکومت به منظور حاکمیت قانون،شفاف سازی، پاسخگویی و مسئولیت پذیری ادارت دولتی ذیربط در راستای مبارزه موثر با شیوع ویروس کرونا باتوجه به وظایف، صلاحیت ها، اجراات، فعالیت ها و ارائه خدمات شان، صادر شده است.

ماده دوم حکم متذکره، اداره بازرس را موظف کرده است تا شکایات و گزارش های معطوف به موارد فساد اداری مرتبط به موضوع این حکم را با رعایت فرمان شماره(۳) مورخ ۱۳۹۷/۲/۲۲ رئیس جمهوری اسلامی افغانستان، بازرسی نماید.»

منبع می نویسد که در روشنایی بند اول ماده سوم حکم رئیس جمهور، اداره بازرس، شکایات و گزارش های مرتبط به موضوع این حکم را از مجرای اشخاص حقیقی، رسانه ها، نهادهای جامعه مدنی، مراکز تحقیقاتی و علمی و سایر اشخاص حکمی دریافت و بازرسی می نماید.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

## د سیاسي موخو لپاره پر ملکي وګړو بریدونه

د هلمند سنګین ولسوالی ته ورغلي خبریالان د سیمه‌ییزو خلکو په حواله وایي چې د ورمې ورځې بریدونه په سیمه کې د ملي اردو ځواکونو کړي دي. د هاوان په دغو بریدونو کې ۲۷ ملکي وګړي شهیدان شوي او ۳۵ نور ټپیان دي. ټول شهیدان شوي او ټپیان شوي ملکي وګړي دي چې پکې سپین ږیري او ماشومان هم شامل دي. د افغانستان د بشري حقونو کمېسیون هم وایي چې د دوی موندنې ښیي، بریدونه د ملي اردو ځواکونو کړي دي. تر دې وړاندې په هلمند کې د ۲۱۵ میوند قول اردو او د هلمند چارواکو ادعا کړې وه چې دا بریدونه طالبانو کړي دي او آن ویلي یې وو چې د ملکي وګړو په منځ کې ځانمرګی برید یا چاودنه شوې ده، خو طالبانو بیا حکومتي ځواکونه د دغه بریدونو مسوول ګڼلي وو.

اوس چې د دغو ملکي وګړو قاتلین معلوم شوي، څه به ورسره وشي، څه باید وشي او څنګه د دغه ډول پېښو د تکرار مخنیوی کېدلی شي؟

په افغانستان کې د جګړې ښکېل لوري چې کله ملکي وکړي ووژني، نو بیا یا یو مخ انکار کوي او پېښه تحریفوي او یا هم پړه پر بل لوري ور اچوي. کله چې پېښه ډېره رسوا شي او د پټولو نه وي، بیا د څېړنو او پلاوو ټاکلو خبره یاده شي، خو د خلکو په سترګو کې خاورې وشیندي. د هېڅ پلاوي د څېړنو پایلې له خلکو سره شریکې نه شوې او نه هم د ملکي وګړو وژونکي له محاکمې سره مخ شول. حکومت او طالبان دواړه وایي چې موږ ملکي وګړي نه وژنو او بیا بیا خپلو جنګیالیو ته دا خبره کوي چې د ملکي وګړو ژوند ته پام وکړئ. له دواړو اړخونو د ملکي وګړو د وژنې مستندې پېښې شته. داسې پېښې شته چې طالبانو ملکي وګړي وژلي دي، دا چې تېروتنه ده او که قصدي، جلا بحث دی، خو طالبان باید په دې اړه خلکو ته ځواب ووایي. ولې دا کار شوی او له عاملینو سره یې څه چلند شوی دی؟ که په دې اړه څوک محاکمه شوي وي او جزا یې لیدلي وي، باید خلک خبر شي. دغه راز حکومتي ځواکونو هم بیا بیا ملکي وګړي وژلي دي. همدا د هلمند او تر هغې وړاندې د بلخ پېښې یې واضح مثالونه دي. اوس دې حکومت ووایي چې ولې یې دا ملکي وګړي وژلي؟ چا وژلي؟ له وژونکو سره به څه کوي او په راتلونکې کې څه ډول د دغه ډول پېښو مخنیوی کوي؟ که ښکېل اړخونه دا کار نه کوي، نو واضح ده چې دوی ته د ملکي وګړي ژوند مهم نه دی. آن دا شک هم کېږي چې دوی به په تېروتنه نه، بلکې په قصدي او شعوري ډول د خپلو سیاسي موخو لپاره ملکي وګړي وژني.

د ملکي وګړو وروستۍ وژنې او بیا پکې ابهام او ګونګوالی پیدا کول ښیي چې ملکیان د سیاسي موخو لپاره وژل کېږي. اوس د دې وخت دی چې د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره سیاسي فشارونه زیات شي. ولس باید په دې چاره کې ډېر فعال رول ولوبوي. د بشري حقونو سازمانونه او فعالین هم باید جدي نظارت وکړي او خپل غږ پورته کړي. د دې تر څنګ سیاستوال او سیاسي ګوندونه هم باید په دې چاره کې واضح دریځ ولري او د نظارت تر څنګ په دې برخه کې جدي غبرګون وښیي. تر هغو چې یو پیاوړی ځار او جدي غبرګون نه وي، د سیاسي موخو لپاره به د ملکي وګړو وژنې همداسې روانې وي او آن د لا زیاتېدو وېره یې هم شته ده.

# د افغانستان اوبه او د ګاونډیانو اندېښنې

لیکوال: عبدالرشید نایل

### اتمه برخه:

### د منځنۍ اسیا جمهوریتونه

د منځنۍ اسیا درې جمهوریتونه تاجکستان (۱۲۰۶ کیلومتره)، ازبکستان (۱۳۷ کیلومتره) او ترکمنستان (۷۴۴ کیلومتره) له افغانستان سره ګډه پوله لري او د افغانستان هغه ګاونډیان دي، چې د آمو سیند په حوزه کې له افغانستان سره ګډې اوبه هم لري.

دا چې په آمو سیند حوزه کې څو هېوادونه شریک دي، د دغې حوزې د اوبو د وېش او په اړه یې د خبرو اترو چاره هم یو څه ستونزمنه ده. له یوې خوا په بېلابېلو وختونو کې د ګډو اوبو اړوند مسائل د دغو هېوادونو ترمنځ د سیاسي لانجو لامل هم شوي او له بلې خوا، سره له دې چې په آمو حوزه کې په پراخه کچه د ځمکو د خړوبولو او برېښنا د تولید وړتیا هم شته ده، خو افغانستان د پراختیایي او زېربنایي چارو په برخه کې له ستونزو سره مخ دی. له همدې کبله د دې حوزې د اوبو وېش په تېره بیا د افغانستان او منځنۍ اسیا د جمهوریتونو ترمنځ، د افغانستان د اوبو د مدیریت په برخه کې خورا اړین ګام دی.

### د منځنۍ اسیا له جمهوریتونو سره تړونونه

د پخواني شوروي اتحاد حکومت ، په آمو حوزه کې د کلنیو اوبو د وېش حدود د اړوندو هېوادونو ترمنځ د ۱۹۸۷ کال په سپټمبر کې مشخص کړل او په همدغه کال د ٥٦٦ شمېره پروتوکول له لارې د آمو سیند له حوزې څخه د منځنۍ اسیا د جمهوریتونو د استفادې کچه هم مشخصه شوه. د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته د منځنۍ اسیا پنځو هېوادونو، د اوبو د مدیریت په اړه د ۱۹۹۲ کال په سپټمبر کې د الماتا هوکړه‌لیک لاسلیک کړ او هماغه د ٥٦٦ پرتوکول مواد پکې ځای شول. په دغه پروتوکول کې د آمو سیند له ټولو ۷۰,۲۵ ملیارد متر مکعب تخمین شوو اوبو څخه، د افغانستان لهخوا د کارولو کلنۍ ونډه یوازې ۲,۱ ملیارد متر مکعب ټاکل شوې ده. خو په دغو هوکړو کې افغانستان ګډون نه درلود او په دې برخه کې د افغانستان رول له پامه وغورځول شو او له بده مرغه د منځنۍ اسیا هېوادونو له خپلواکۍ اخیستلو وروسته هم همدغه چلند ته دوام ورکړ.

افغانستان هغه مهال د شوروي جمهوریتونو له اتحاد سره څو سرحدي معاهدې لاسلیک کړې دي، چې د اوبو قضیې ته هم اشارې پکې شوې دي؛ مګر د آمو حوزې د ګډو اوبو د سرچینو او وېش په اړه یوه معاهده هم مشخصه هوکړه نه لري. د بېلګې په توګه، د ۱۹٤٦ کال قرارداد د دواړو هېوادونو ترمنځ د پولو پر ټاکلو راڅرخي او د آمو سیند د وسط عرضي کرښه پکې د دواړو هېوادونو ترمنځ پوله ټاکل شوې ده. د ۱۹۵۸ کال قرارداد بیا د ګډ سیند پولې د کښتۍ چلولو، کب روزنې او کرنې د موخو لپاره توضیح کړې دي.

د دغه قرارداد په ۷مه ماده کې د «ګډو اوبو» اصطلاح هم تعریف شوې او په ۳مه فقره کې وایي، چې دا قرارداد پر داخلي اوبو د پلي کېدو وړ نه دی. خو د دغه قرارداد د ۸مې مادې لومړۍ فقره بیا وایي، چې: «د سرحدي اوبو کارونه د سرحد تر کرښې پورې له هر ډول قید او شرط پرته د معاهدې د هر اړخ لهخوا کارول کېدای شي». خو دا ماده هم د پاتې فقرو په مرسته تفسیرېږي، چې تر ډېره یې د کښتۍ چلولو او داسې نورو موضوعاتو ته اشاره کړې، نه له سیند څخه د اوبو ایستلو ته. ځکه په ۱٦مه ماده کې وایي، چې له سرحدي اوبو څخه د کار اخیستنې مسائل د دواړو لورو ترمنځ، د ځانګړو هوکړه‌لیکونو له لارې تنظیمېږي.

د دغه تړون له مخې، «پر سرحدي اوبو د پولونو، بندونو او نورو زېربناوو جوړول چې د کښتۍ چلولو مانع کېږي او یا د اوبو پر وضعیت اغېزې ولري، یوازې هغه مهال جوړېدای شي، چې دواړه لوري پرې موافقه وکړي». د دغه تړون له ۱۹مې مادې بیا په صراحت سره ښکاري، چې د افغانستان له خوښې پرته د آمو سیند پر سواحلو د زېربناوو جوړښت د قرارداد خلاف دي.

له دغه قرارداد وروسته، د ۱۹۵۸ د جون میاشتې قراداد د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ سرحدي نقطه کې د اوبو کارونې د زېربناوو د ګډې پراختیا موضوع تشرېح کړې، چې وایي، له ګډو تخنیکي څېړنو او نورو اړینو کارونو وروسته به د پنج او آمو سیندونو له اوبو څخه د لا غوره ګټې اخیستنې لپاره هوکړه کېږي.

د شوروي اتحاد له پاشل کېدو وروسته اوس افغانستان له څو هېوادونو (تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان) سره ګډه پوله لري او د اوبو په قضیه کې هم له دریو جلا هېوادونو سره مخ دی. هغه مهال د ۱۹۵۸ کال قرارداد له مخې، په سیند کې د کښتۍ چلولو پر وړاندې د خنډ جوړوونکو زېربناوو جوړولو د دواړو لورو هوکړې ته اړتیا لرله؛ خو دا قرارداد اوس ان په دې برخه کې هم پوره وضاحت او صراحت نه شي لرلی.

له بلې خوا، د نړیوالو قوانینو له مخې، کله چې یو دولت د بل دولت ځایناستی کېږي، د مخکېني دولت د ټولو مسؤولیتونو او توافقاتو د پلي کولو الزامیت هم نه لري، چې په اړه یې د ۱۹۷۸ کال د ویانا کنوانسیون قضیه واضح کړې ده.  د پورتنې لامل له مخې، یو نظر دا دی چې افغانستان له درې واړو هېوادونو سره په جلا جلا ډول اړوند حکمونه پلي کړي. د بېلګې په توګه که افغانستان او تاجکستان پر آمو سیند د برېښنا د کوم بند جوړولو هوکړه کوي، باید تر دغو اوبو لاندې هېوادونو سره هم خبره شریکه کړي. له همدې کبله، د آمو سیند په حوزه کې د پراختیاوو په اړه د ۱۹۵۸ کال د قرارداد اغېزې لا زیاتې څېړنې ته اړتیا لري.

### د آمو حوزې د اوبو د تړون اړتیا

که څه هم له پخواني شوروي اتحاد سره د ۱۹٤٦ او ۱۹۵۸ کلونو د قراردادونو په شمول، څو قراردادونه شته دي، خو یو یې هم په مشخص ډول د اوبو د وېش په تړاو څه نه لري او لا هم دا تشه موجوده ده. اړوند څېړونکي په دې حوزه کې د پراختیایي کارونو یوازېنی خنډ د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره د ګډو توافقاتو نشتون بولي. د اوبو د برخې څېړونکي په دې اند دي، چې پر ګډو اوبو د هوکړې له شتون پرته ستونزمنه ده چې افغانستان د اوبو پر پروژو د پانګونې لپاره د نړیوالو مالي ملاتړ جلب کړای شي. همدا لامل دی، چې له ۲۰۰۱ کال وروسته نړیوالو تمویلوونکو د اوبو د زېرمه کولو د سترو تاسیساتو په جوړولو کې لېوالتیا لرله، خو د ګډو اوبو د ستونزو له رابرسېره کېدو سره دا لېوالتیا کمه شوه او اوس هم له دا ډول تړونونو پرته، په دې برخه کې پانګونې ته زړه نه ښه کوي.

د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره له ۲۰۰۵ کال څخه تر ۲۰۱۰ کال پورې د معلوماتو د تبادلې په موخه ۷ هوکړه‌لیکونه لاسلیک شوي، چې ډېر یې له تاجکستان سره دي؛ خو د دغو اوبو د سهم او وېش په اړه له دغو درې واړو هېوادونو سره د اوبو د وېش په تړاو کوم تړون نشته دی او دا چې افغانستان په شمال کې د کرنې او اوبو لګونې لوړ پوتنشیل لري، له دغو هېوادونو سره د ګډو اوبو د وېش تړونونه هم خورا زیات اهمیت لري.

افغانستان په تېرو کلونو کې له دغو درې واړو هېوادونو سره ښې سیاسي او اقتصادي اړیکې لرلې دي. په دې برخه کې، د رېل پټلۍ جوړېدل او له ترکمنستانه افغانستان ته په ټیټ نرخ د برېښنا ورکول، د تاجکستان له لارې د نړیوالو ځواکونو اکمالاتي توکو ته ترانزیټي لاره ورکول، په پنج-آمو سیند د امریکا په مالي ملاتړ د یوه پول جوړېدل، د تاجکستان، افغانستان او ایران ترمنځ د فارسي ژبو د یووالي اقتصادي شورا جوړېدل او دغه راز ترکمنستان-افغانستان-پاکستان-هند (TAPI) د ګازو نللیکې پروژه یادولی شو.

د منځنۍ اسیا له جمهوریتونو سره د افغانستان له ښو سیاسي او اقتصادي اړیکو سره سره، د ګډو اوبو په تړاو د خبرو اترو لپاره ګام نه دی اوچت شوی، چې د پخواني شوروي اتحاد پر مهال د منځنۍ اسیا د هېوادونو ترمنځ د ګډو اوبو په تړاو شوو تړونونو کې د افغانستان له غیاب څخه دا تشه لا ډېره ښکاره ده. په دې برخه کې د سیمه‌ییزې حکومتولۍ یوازېنی میکانېزم، د ۱۹۵۸ کال پروتوکول دی، چې د افغانستان او پخواني شوروي اتحاد له جمهوریتونو (USSR) سره د یو شمېر ګډو کارونو لپاره لاسلیک شوی دی. په دغو کارونو کې، د اوبو له ککړوالي مخنیوی، د معلوماتو او موادو تبادله، د سېلابونو د خبرداري سیستم جوړول او د سرحدي سیندونو د لارو له بدلولو مخنیوی پکې راځي.

### اندېښنې، خنډونه او فرصتونه

په تاجکستان او ترکمنستان کې د دولتي طرحو له مخې به، په دغو هېوادونو کې د آمو سیند د اوبو کارونه زیاته شي. تاجکستان هوډ کړی، چې د خړوبېدو وړ ځمکې تر ۵۰۰۰۰ هکتاره پورې پراخې کړي. ترکمنستان هم په ورته وخت کې همدا ډول پلان لري او غواړي د خړوبېدو وړ ځمکې تر ٤۵۰۰۰۰ هکتاره پورې پراخې کړي او دغه ځمکې به د وریجو، پنبې او غنمو د کښت لپاره وکارول شي، کوم چې تر نورو توکو زیاتو اوبو ته اړتیا لري. د افغانستان په اړخ کې هم د دغه سیند په اړوندو سیمو کې د خړوبېدو وړ ځمکو پراختیا په پام کې ده. که څه هم افغانستان اړ دی، چې په هېواد کې د بېوزلۍ او بې‌کارۍ د له منځه وړلو او اقتصادي ودې لپاره د اوبو له منابعو استفاده وکړي؛ خو د آمو سیند حوزې نور هېوادونه له ګډو اوبو څخه پر اوسنۍ استفادې روږدي شوي او کله چې افغانستان له دغه سیند څخه د اوبو کارونه زیاتوي، د دغو هېوادونو اندېښنې به له ځان سره ولري.

په داخلي کچه هم یو شمېر داسې خنډونه شته دي، چې په آمو سیند حوزه کې یې د اوبو مدیریت، پراختیایي چارې او له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د وېش قضیه له خنډونو سره مخ کړې ده. د قوي سیاسي ارادې نشتون، د ښې حکومتولۍ نشتون، ناکافي تجهیزات او زېربناوې، اقلیمي بدلونونه او طبعي آفات، ویجاړوونکي سېلابونه (په تېره د کرنیزو ځمکو د ویجاړولو له کبله)، د متخصصینو کمښت، معلوماتي منابعو ته کم یا نه لاسرسی او داسې نور د یادولو وړ دي.

په ورته وخت کې بیا اوسمهال داسې فرصتونه هم شته دي، چې د دغې حوزې د اوبو د وېش په اړه یوې هوکړې ته رسېدل اسانوي. افغانستان، که څه هم، په تېر کې د آمو حوزې د اوبو په اړه له خبرو اترو څخه دباندې پرېښودل شوی و؛ خو اوس بیا په دا ډول خبرو اترو کې د ګډون فرصتونه ورته زیات شوي دي. له یوې خوا افغانستان په وروستیو کلونو کې د انرژۍ د پروژو د توافقاتو په اړه بحثونو کې ګډون درلود او د دې ترڅنګ، په نورو بېلابېلو سیمه‌ییزو کنفرانسونو کې هم فعال حضور لري او له بلې خوا د منځنۍ اسیا له هېوادونو سره ښې اړیکې لري او په ځانګړې توګه له تاجکستان سره یې د معلوماتو د تبادله کولو په تړاو هوکړه‌لیکونه هم لاسلیک کړي دي.  افغانستان د منځنۍ او سوېلي اسیا هېوادونو د نښلولو لپاره د انرژۍ د دهلېز رول لري او له همدې کبله په ځانګړې توګه له تاجکستان سره د اوبو برېښنا د تولید په برخه کې د نږدې همکاریو فرصت شته دی او دواړه هېوادونه د آمو سیند په لوړه برخه کې هم پراته دي.

افغانستان او ترکمنستان په پام کې لري، چې د پنج-آمو سیند د ګډې پراختیا لپاره کار وکړي. د دغې ګډې همکارۍ موخه له اوبو څخه د برېښنا تولید دی، چې هم به په ملي کچه د انرژۍ اړتیا پوره کوي او هم یې د نړیوال خرڅلاو له درکه د عوایدو سرچینه په پام کې نیولې ده.

**دوام لري...**

# د افغانستان، امریکا او روسیې تر منځ څه روان دي؟

لیکنه: جانتن مارکس

په وروستیو څو ورځو کې رامخ ته شوي هغه رپوټونه څنګه تعبیرولی شو چې وايي: د روسیې پوځي استخباراتو په افغانستان کې د امریکا او نورو لوېدیځو هېوادونو د پوځیانو د وژلو په بدل کې طالب وسلوالو ته پیسې ورکولې؟

دا رپوټونه څومره سم دي؟ ایا کره بنسټ لري؟

د دې رپوټونو اصلي ارزښت څه دی؟

تر ټولو لومړۍ خبره دا ده چې په دې قضیه کې ټولو ښکېلو غاړو دا رپوټونه ناسم بللي دي.

د روسیې حکومت دا ټوله کیسه رد کړې او طالبانو هم ورته کار کړی دی.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم په ټینګار سره ویلي چې د دې موضوع په اړه کله هم حال نه و ورکړل شوی.

د سپینې ماڼۍ چارواکي وايي، د امریکا استخباراتي کړۍ په دې اړه یوه خوله نه وې، کوم کره ثبوت موجود نه و او له همدې کبله دا رپوټونه تر ولسمشر ټرمپ یا د هغه تر مرستیال پورې ونه رسېدل.

خو په امریکا کې ځینې معتبرې رسنۍ له څو ورځو راهیسې په دې اړه رپوټونه خپروي او وايي، امریکایي چارواکي ان په تېره مارچ میاشت کې خبر وو چې روسان په افغانستان کې د امریکا او نړیوالې ټلوالې د پوځیانو د وژلو په بدل کې نغدي جایزې ورکوي.

د رسنیو رپوټونه دا هم وايي چې د امریکایي پوځ په چاپو کې یو مقدار همدغه نغدې پیسې هم تر لاسه شوې وې او دا امکان هم شته چې ځینې امریکایي پوځیان د جایزې د همدې پیسو په بدل کې وژل شوي وي.

سرچینې وايي، د امریکا حکومت دغه استخباراتي موضوع په لوړه کچه تر بحث لاندې نیولې وه او ان د ولسمشر ټرمپ په ورځني استخباراتي رپوټ کې هم یاده شوې وه.

د ښاغلي ټرمپ مخالفانو او د ده ټاکنیز سیال جوبایډن اوس همدا موضوع راټینګه کړې او تور لګوي چې ډونالډ ټرمپ د امریکا د ګټو دفاع نشي کولی.

خو جالبه دا ده چې اوس ځینې جمهوریتپال هم په دې اړه پوښتنې لري.

د بېلګې په توګه، د ولسي جرګې غړې لېز چیني دا پوښتنه کوي چې پر دې موضوع څوک څوک خبر وو او له کله راهیسې پرې خبر وو.

**ایا روسیه له امریکا غچ اخلي؟**

د ولسمشر ویلادیمیر پوتین په واکمنۍ کې روسیې په ډېره ځیرکتیا هر هغه شرم له منځه وړی چې د شوروي اتحاد له ماتېدو راهیسې دا هېواد ورسره مخ و.

پوښتنه دا ده چې د دې کار لپاره د روسیې موخه څه کېدلی شي؟ ځواب یې دا دی چې احتمالاً له یوې ډېرې موخې کېدلی شي.

روسیه له طالبانو سره نږدې اړیکې پالي او د دې اړیکو لپاره ښه دلایل هم لري.

مسکو په سیمه کې د اسلامي بنسټ پالنې په اړه ژوره اندېښنه لري، چې اوس د روسیې پر لور په خورېدو ده. روسان په دې باور دي چې طالبان د دې سخت دریځۍ پر وړاندې د دوی لپاره یو سپر کېدلی شي.

داسې باور کېږي چې روسیې د طالبانو مهمو مشرانو ته پیسې او وسلې ور کړې دي.

که څه هم روسیه له افغان حکومت سره اړیکې پالي او په ټول کې د افغان سولې بهیر ملاتړ کوي، خو بیا هم په احتیاط ګام پورته کوي او په راتلونکې کې په افغانستان کې له بې ثباتۍ وېره لري.

بل لور ته روسیې د لوېدیځ پر ضد هم یوه پټه یا نا اعلان شوې جګړه پیل کړې ده.

دا جګړه څو اړخونه لري؛ لکه انټرنېټي بریدونه، د ناسمو مالوماتو کمپاینونه، په ټاکنو کې لاسوهنه، په لوېدیځو هېوادونو کې د سخت دریځو ملاتړ او داسې نور.

په ځینو مواردو کې روسیې مخامخ اقدام هم کړی، چې د برېټانیا په سلېزبري ښار کې د روسیې د استخباراتو پر یوه پخواني افسر برید یې ښه بېلګه ده.

همدا راز ویل کېږي چې روسي قراردادیانو په سوریه کې د امریکایي پوځ پر مرکزونو هم پراخ بریدونه کړي او د امریکا په ځوابي هوایي بریدونو کې ډېر روسان هم وژل شوي دي.

د ولسمشر ویلادیمیر پوتین په واکمنۍ کې روسیې په ډېره ځیرکتیا هر هغه شرم له منځه وړی چې د شوروي اتحاد له ماتېدو راهیسې دا هېواد ورسره مخ و.

دا هم مالومه ده چې په ۱۹۸۰مه لسیزه کې له افغان جنګیالیو سره د امریکا ملاتړ د دې لامل شو چې شوروي اتحاد له افغانستانه ووځي.

ځینې په دې باور دي چې د روسیې په واکمنانو کې ځینې کسان غواړي له امریکا د خپلو تېرو او اوسنیو ناکامیو غچ واخلي.

**ناځرګند حالت**

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ دا ادعا رد کړې ده چې روسانو په افغانستان کې پر امریکایي پوځیانو د بریدونو په بدل کې په طالبانو پورې تړلو وسلوالو ته جایزې ټاکلې وې.

دا قضیه د امریکا او روسیې د اړیکو پر اوسني وضعیت هم رڼا اچوي. د روسیې پر وړاندې د امریکا پالیسي ګډه وډه او ناځرګنده ښکاري.

یوې خوا ته امریکا وېره لري چې روسیه خپلې اټومي وسلې عصري کوي او د منځني ختیځ او نورو سیمو لپاره پراخ پلانونه لري.

خو بلې خوا ته د ولسمشر ټرمپ اداره د روسیې هر رد په پټو سترګو مني، د بېلګې په توګه، د روسیې دا خبره چې د امریکا د ولسمشریزو ټاکنو په کمپاین کې لاسوهنه نه کوي.

د امریکا د دې ګډوډ دریځ پړه پر خپله د ولسمشر ټرمپ پر غاړه ده، ځکه ډېر کسان فکر کوي چې د ده ډېکتاتور ډوله مشران ډېر خوښېږي.

له دې وروستي استخباراتي رپوټ سره چې د امریکا حکومت څه ډول چلن وکړ، دا پخپله د ولسمشر ټرمپ د بهرنۍ پالیسۍ ښکارندویي کوي.

دا هر څه به د ولسمشر ټرمپ ډیموکراتو مخالفانو او د ملي امنیت پخواني سلاکار جان بولټن په څېر سخت دریځه جمهوریتپالو ته یوه بله پلمه هم ورکړي.

دوی په خپلو طریقو استدلال کوي چې د ولسمشر ټرمپ په اداره کې ستراتیژیک لیدلوری، ګډ فکر او مشرتابه نشته.

د روسیې په پیسو په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د وژنې رپوټ په یو حساس وخت کې خورا حساسه موضوع ده او په اسانۍ نه ورکېږي.

که په دې رپوټ کې لږ حقیقت هم وي او که د روسیې د جایزو له کبله د امریکایي پوځیانو وژنه ثابته شي، دا به له سرې جګړې راهیسې د امریکا او روسیې اړیکې تر ټولو بد حالت ته وګرځوي.

دا هم مهمه ده چې دا رپوټ د ولسمشر ټرمپ د ټاکنیز کمپاین په ورځو کې رامخې ته شوی. نوموړي وار د مخه د کرونا وېروس او په امریکا کې د تورپوستو د حقونو لپاره د روانو اعتراضونو له کبله مینه وال له لاسه ورکړي.

د امریکا ملګري او دښمنان اوس په یوه خبره زړه خوشالولی شي او هغه دا چې اوس لږ تر لږه د دې احتمال شته چې ولسمشر ټرمپ راتلونکې ټاکنې وبایلي.

کرونا وېروس د امریکا طبي، ټولنیز او اقتصادي خدمات سخت ځپلي، خو له دې وبا ور هاخوا نورې خبرې هم روانې دي.

د برېټانیا حکومت په دې لټه کې دی چې له اروپایي ټولنې تر بیلتون وروسته د دې بیلتون ګټه وخوري او د «نړیوالې برېټانیا» په شعار سره خپله نوې بهرنۍ پالیسي پیل کړي.

اوس د نړۍ مشران د خپلو راتلونکو پلانونو لپاره باید دوه حالته په نظر کې ونیسي؛ یو د ولسمشر ټرمپ د واکمنۍ دوام او بل راتلونکې جنوري میاشت په امریکا کې یو نوی حکومت.

که حکومت بدل شي او د روسیې د جایزو له کبله د امریکایي پوځیانو د وژنې خبره رښتیا ثابته شي، د جوبایډن اداره به یې له روسیې خامخا پوښتنه کوي.

# د امتیاز لپاره سیالي او افغان وژنه؛

## ملګري ملتونه: افغان حکومت دې د سنګین پېښه په هر اړخیزه توګه وڅېړي



په هلمند کې د وړمې ورځې خونړۍ پېښې په ملي او نړیواله کچه غبرګونونه پارولي دي. وړمه ورځ د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د بازار پر دودیزه مېله د هاوان برید شوی دی چې د وروستیو شمېرو له مخې په پېښه کې ۲۷ ملکي وګړي وژل شوي دي. تازه ملګرو ملتونو ادعا کړې چې هاوان افغان ځواکونو توغولی دی، خو تر څنګ یې د دغې پېښې د هر اړخیزې څېړنې سپارښتنه کړې ده. بلخوا د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم وايي چې برید د افغان ځواکونو له لوري شوی دی. مدني فعالانو بیا په دې تړاو لاریون کړی دی او د حکومت دغه ډول بې پروایي یې غندلې ده. سره له دې چې طالبان او افغان حکومت دواړه د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کوي، خو د دواړو لورو ترمنځ جګړو کې تل ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوړي، چې دې مسئلې جدي اندېښنې پارولې دي. ملکیان د افغان جګړې ستره برخه قربانیان دي چې له امریکا سره د سولې هوکړې هم د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې کموالی نه دی راوستی. وړمه ورځ په وروستیو میاشتو کې تر ټولو خونړۍ پېښه په هلمند کې وشوه. راپورونه وايي چې طالبانو پر افغان ځواکونو برید کړی دی او افغان ځواکونو په ځوابي برید کې پر طالبانو د هاوان ګولیو برید کاوه، خو ګولۍ د عامو خلکو پر یوه دودیزه مېله کې لګېږي او درنه مرګ ژوبله اړوي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه دفتر هم وايي چې دغه ګولۍ د افغان ځواکونو له لوري توغول شوې دي.

یوناما تېره ورځ په یوه پیغام کې ویلي چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د جدي اندېښنې وړ ده او په خبره یې، د دوی بې طرفه او کره معلومات ښیي چې د افغان ځواکونو د هاوان د لګېدو له امله ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د سرچینې په خبره: ((زموږ لومړني او بې طرفه معلومات ښیي چې هاوان د افغان ځواکونو له لوري توغول شوی دی. همدې پېښې افغان ملکیانو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده. څو سرچینو راته ویلي چې افغان ځواکونو د طالبانو پر وړاندې په ځوابي برید کې هاوان توغولی، خو هدف ته نه دی رسېدلی)).

ملګرو ملتونو د ملکي وګړو مرګ ژوبله د جدي اندېښنې وړ بللې ده او پر افغان حکومت یې غږ کړی چې د سنګین پېښه په هر اړخیزه توګه وڅېړي. د یوناما په پیغام کې راغلي چې افغان حکومت دې یو بې طرفه پلاوی وټاکي او ملګري ملتونه د دغې پېښې د حقیقت په موندلو کې هر اړخیزې همکارۍ ته تیار دي.

له دې سره جوخت په هلمند او ځینو نورو سیمو کې مدني فعالانو دغه برید غندلی او پر ښکېلو لورو غږ کوي چې د خپلو سیاسي او امتیازي موخو لپاره دې د عامو افغانانو وژنه بس کړي. بلخوا دغه مدني فعالان له حکومت د پېښې د عاملین د نیولو او مشخصولو غوښتنه کوي او وايي د ملکي وګړو مرګ ژوبله ورته د منلو وړ نه ده.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم پر پېښه غبرګون ښودلی دی او په خبره یې د افغان ځواکونو د هاوان ګولیو ملکي افغانانو ته تلفات اړولي دي. د دغه کمېسیون مرستیال نعیم نظري وايي، د افغان ځواکونو د هاوان ګولۍ د ۲۷ ملکیانو ژوند اخیستی دی.

بلخوا په هلمند کې بیا د ۲۱۵ میوند قول اردو مطبوعاتي مسوولینو رسنیو ته ویلي چې دا برید دوی نه دی کړی او نه پکې ښکېل دي، له همدې امله د پلاوي له جوړېدو هرکلی کوي او په خبره یې، په دې تړاو له هر ډول څېړنو او پلټنو سره همکارۍ ته ژمن دي.

د ملي شورا غړي بیا حکومت خورا کمزورۍ بولي او په خبره یې، په خپلو اصلي دندو کې چې یوه یې د ملکي وګړو ساتنه ده، ناکام دی.

د مشرانو جرګې غړی حنیف حنیفي وايي، حکومت خورا بې پروا دی او د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره هېڅ راز پاملرنه نه کوي. د ده په خبره: ((پر ماشومانو رحم نه لري، زموږ پر خلکو رحم نه لري، زموږ پر ښځو رحم نه لري، په داسې شرایطو کې دوی د څه لپاره حکومت کوي؟ زه خو نه پوهېږم دا څه ډول حکومت دی)).

دغه پېښې له ځان سره پراخ نور غبرګونونه هم لرلي دي، پخواني ولسمشر حامد کرزي، اروپايي ټولنې او ګڼو نورو بنسټونو دغه برید غندلی دی او له حکومت یې په جدي توګه غوښتي چې پېښه دې په هر اړخیزه توګه وڅېړي.

# د روغتیا نړیوال سازمان: کرونا ویروس پر اوږدمهالې پدیدې بدله شوې او ژر به له منځه ولاړه نه شي

د روغتیا نړیوال سازمان خبرداری ورکړی چې د کرونا وبا به ژر له منځه ولاړه نه شي.

د دغه سازمان مشر ټېډروس اډهانوم ګیبریسوس داسې مهال دا خبرداری ورکړی چې د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له لس نیم میلیونو اوښتی او دغه راز ۵۱۰ زره او ۷۳۶ کسان یې مړه کړي او نږدې درې میلیونه نور بېرته ترې رغېدلي دي. د دغو شمېرو پر بنسټ امریکالاهم د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په امریکا کې د دغه ویروس درې میلیونه پېښې ثبت شوې او ۱۲۹ زره او ۷۷ امریکایان د کرونا له کبله مړه شوي دي. د تازه خپرو شویو شمېرو پر اساس له امریکا وروسته برازیل، روسیه، هند او برېټانیا په ترتیب سره دویم، درېیم، څلورم او پنځم هغه هېوادونه دي چې دغه ویروس ډېر ځپلي دي. په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان مشر ویلي، که څه هم د نړۍ په کچه ځینو هېوادونو د کرونا ویروس په مخنیوي کې پرمختګ کړی، خو د نوموړي په خبره، لا هم دا وبا په چټکۍ پر مخ روانه ده. نوموړي زیاته کړې، نړۍ به په راتلونکو میاشتو کې هم لا ډېر زغم، حوصلې، تواضع او سخاوت ته اړتیا ولري. په ورته وخت کې په امریکا کې د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د نویو پېښو له زیاتېدو سره څو نور ایالتونه هم د رستورانتونو او نورو کاروبارونو د بیا پرانیستو له پرېکړې په شا شول. د امریکا په اریزونا، فلوریډا، ټکزاس، نیوجرسي او د شمال او لوېدیځ په ډېرو ایالتونو کې چارواکو د رستورانتونه، شراب خانې، سینماوې او د ګڼې ګوڼې ځینې نور ځایونه بند کړي او ډېری ایالتونو د ماسک اغوستل او ټولنیزه فاصله جبري کړي دي. په ورته وخت کې چارواکي شکایت کوي چې اکثره خلک د ماسک د اغوستو او ټولنیزې فاصلې د رعایتولو لارښوونې له پامه غورځوي. د امریکا د ساري ناروغیو جګپوړي کارپوه ډاکتر انتوني فاوسي چې د کرونا ویروس د مخنیوي د ځانګړې کاري ډلې غړی هم دی، د دې ناروغۍ د شمېرو د زیاتېدو په اړه خبرداری ورکړ او ویې ویل، نوې شمېرې په هغو ایالتونو کې ثبت شوې چې د دې ناروغۍ د مخنیوي مقررات یې بې وخته نرم کړل. فاوسي ویلي چې دوی باید دوې اونۍ نور هم صبر کړی وای او بیا یې محدودیتونه لرې کړي وای.

## د کتـاب خبـري


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

**دویمه برخه**

**یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي**

**دیارلسم څپرکی**



**دیارلسم څپرکی**

**۱۳. پنځمه دارايي: هغه تجارت چې د څو برابره کېدو او پرمختګ وړتیا لري**


د شبکه يي بازارموندنې په اړه يو حیرانوونکی حقیقت دا دی چې دا تجارت د هغو خلکو لپاره نه دی چې په پلور کې تکړه وي. څو پاڼې مخکې مې وعده درکړې وه چې «جان» به ډېر معلومات درکړي، دا دی اوس يې وار را ورسېد.
رابرټ: جانه! ایا له دې سره موافق يې چې په شبکه يي بازارموندنه کې هغه خلک بر یالي دي چې ښه پلورونکي نه دي؟
جان: یوازې موافق نه یم، بلکې دا هم ویلای شم چې بیخي دې په پلور کې نه وي تکړه. د هغو خلکو لپاره چې د ښو پلورنکو په توګه نړۍ ته راغلي دي، که په شبکه یي بازارموندنه کې بریا غواړي، نو لومړی دې د پلور په اړه ټول زده کړي شیان له ذهنه و باسي.
له کومو بریالیو شبکه یي بازار موندونکو سره چې ما لیدلي، زیات يې روزونکي، میندې، روحاني خلک یا ښوونکي دي. یانې هغه خلک دي چې بل چا ته د خپلو تجربو له انتقالولو، کیسو او مرسته کولو څخه خوند اخلي. شبکه يي بازارموندنه نورو خلکو ته د شخصي کیسو، تجربو او اطلاعاتو رسول دي، د شیانو پلورل نه دي. د بازار موندنې د شبکو بریا په هغو خلکو پورې هم اړه لري چې ته يې دې شبکې ته راولې.
په نړۍ کې په هرو شلو کسانو کې یو يې ښه پلورنکی دی. په پلورلو کې سخت کار کول بریا ده او د شبکه يي بازار موندنې بریا د هر څه په دوه برابره کولو کې ده.
رابرټ: کله کله چې زه خلکو ته وایم چې شبکه يي بازارموندنه د پلورلو تجارت نه دی، دوی شکمن شي او وایي:«فکر نه کوې کوچنۍ خبره لویوې؟ د پلورلو او اطلاعاتو رسولو ترمنځ څه توپیر دی؟ دا هر څه یوازې د الفاظو لوبه ده.»
جان: نه، نه د الفاظو لوبه ده او نه له کوچنۍ خبرې څخه لویه خبره جوړوې. دلته خبره د څو برابره کولو او زیاتولو ده چې د پلورلو او شبکه يي بازارموندنې ترمنځ لوی توپیر راښیي.
داسې خلکو ته زه دغه ځواب ورکوم:«که غوره، پوره، ماهره او فوق العاده پلورونکي يئ، نو ښه پلور کولای شئ او دا تاسو ته ښه چانس هم دی؛ خو امکان لري چې په شبکه یي بازارموندنه کې بریالي ونه اوسئ.
ولې؟ ځکه ښایي تاسو ډېر شیان وپلورئ؛ خو شبکه مو دا وړتیا ونه لري چې ستاسو په څېر ښه پلور وکړي، نو ستاسو شبکه پرمختګ نه کوي او په پیل کې له منځه ځي.
رابرټ: ځکه چې ته يې په زانګو کې سا ور بندوې او خپه کوې يې.
جان: بلکل همداسې ده، ما څو ځله لیدلي دي. په شبکه يي بازارموندنه کې ډېر خلک وینو چې دا تجارت پیلوي او له ناکامۍ سره مخ کېږي، ځکه دوی فکر کوي چې د دې تجارت وړتیا په نبوغ، وړتیا او لوړو مهارتونو کې نغښتې ده. دلته خبره دا نه ده چې ته څه کولای شې، بلکې دا اړینه ده چې ته او نور خلک دواړه څه کولای شئ.
ډېر شرکتونه مې لیدلي چې د خلکو پر شخصي پلور تکیه کوي؛ خو د خلکو پر زده کړه ټینګار نه کوي چې د نورو خلکو په کارونو کې د دوی هڅې او خواري څو چنده شي. د دې تجارت د بریا کیلي په څو برابره کولو کې ده، په ښه پلورنکي کېدو کې نه ده. کله چې د شبکه يي بازارموندنې شرکتونه دې ته توجه نه کوي، نو د دوامداره پرمختګ مخه يې نیول کېږي او زیاتوالی په سم ډول نه رامنځته کېږي.
رابرټ: دا ډېره حیرانوونکې ده چې ډېر خلک زیات پلور اړین بولي. دا په اصل کې د S کونج اوسېدونکو یانې د ازاد کاروبار لرونکو فکر دی. د B کونج اوسېدونکو یانې لویو تجارانو فکر نه دی. په S کونج کې نوښت، نبوغ او وړتیا اړینه ده؛ خو په B کونج کې دا ټول د ناکامۍ سبب ګرځي.
د هنری فورډ هغه طرحه چې په وسیله يې د نړۍ پیاوړی شرکت رامنځته کړ او نړۍ ته يې تغییر ورکړ، د کارکوونکو مهارت او وړتیا نه وه. ده کولی شوای تکړه او ماهر کسان وګوماري چې غوره موټرونه جوړ کړي؛ خو په داسې کولو به یوازې په کال کې یو څو سوه دانې پلورل کېدل. خو فورډ داسې طرحه جوړه کړه چې په وسیله يې میلیونونو کسانو کولی شوای موټرونه جوړ کړي او ده ته میلیونونه ګټه ورسېږي.
فورډ د B کونج د اوسېدونکو په څېر فکر لاره.
جان: د دې موضوع د روښانه کولو لپاره زما دې بېلګې ته فکر نه و. تا ډېره ښه بېلګه وویله. بلکل، که غواړې په شبکه يي بازارموندنه کې بریالی شې، نو دغسې فکر به لرې.
یو ځل بیا وایم، کوم کار چې ته کولای شې، په شبکه يي بازارموندنه کې بریالیتوب نه دی، بلکې بریالیتوب د هر څه په څو برابره کولو او زیاتولو کې نغښتی دی. په بله وینا، خپل تجارت داسې جوړ کړه چې خلک يې په اسانۍ کاپي کولای او تقلید کولای شي. ولې؟ ځکه کاپي کول ستا بریالیتوب او هغه څه دي چې ته يې غواړې.
د زیاتولو او څو برابره کولو په اړه به بیا هم خبرې وکړو؛ خو اوس به د پرمختګ په اړه یو څه وضاحت درکړو.

**دوام لري...**

# په یوویشتمه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت

اکسوس کتابپلورنځی

(په یوویشتمه پېړۍ کې د بشري سرچینو مدیریت) کتاب په دې وروستیو کې پښتو شوی. د کتاب لیکوال زورلوسن یوسل دی چې سید نورالله عابد پښتو کړی دی. د کتاب پښتو بڼه ۱۲۴ مخونه لري.
دا کتاب د لېسانس په کچه د بشري سرچینو د مدیریت په برخه کې د مهمو موضوعاتو او اوسنیو بحثونو یو غورچاڼ وړاندې کوي. د کتاب موخه د لاندې اړینو پوښتنو د ځوابونو په موندلو کې د بشري سرچینو د مدیریت له زده کړیالانو سره مرسته کول دي:
۱-د بشري سرچینو مدیریت څه شی دی؟
۲- د بشري سرچینو مدیریت څنګه په سازماني ترتیباتو کې کارول کېږي؟
۳- ولې خلک د نورو سازمانونو په څېر مهم دي؟
۴- څنګه کولای شو بشري سرچینې په یوویشتمه پېړۍ کې په اغېزناک ډول اداره کړو؟
دغه لاربښود د سازماني چلند او بشري سرچینو د مدیریت پر بنسټونو تمرکز کوي او هغه بنسټیز سازماني موضوعات او عوامل څېړي چې په کاري ساحه کې پر کارکوونکو اغېز کوي. که څه هم ممکنه نه ده چې په دغه لاربښود کې د بیان شوې هرې موضوع په اړه د مکمل کتاب ولیکل شي، خو په کتاب کې د امکان تر حده د هرې موضوع په اړه پوره معلومات راټول شوي دي.
همدارنګه د هر څپرکي په پای کې څو پوښتنې راوړل شوې دي، څو د ذکر شویو موضوعاتو په اړه د زده کړیالانو د پوهې کچه وارزوي.
د کتاب دویم څپرکی د خلکو طبیعت او په سازمان کې د دوی رول تشریح کوي. دریم څپرکی د بشري سرچینو پر مدیریت تمرکز کوي. څلورم څپرکی يې د کارکوونکو پر هڅونه او ژمنتیا راڅرخي. پنځم څپرکی په یو سازمان کې د ډلو او ټیمونو ارزښت او شپږم څپرکی يې بیا سازماني کلتور او په سازماني کلتور کې د بشري سرچینو رول بیانوي.
اووم څپرکی سازماني جوړښت تعریفوي. اتم څپرکی سازماني او انفرادي زده کړې او نهم څپرکی له هغو بنسټیزو موضوعاتو څخه بحث کوي، کوم چې په اوسني سوداګریز چاپېریال کې د بشري سرچینو کارکوونکي له ننګونو سره مخ کوي.
په ټوله کې کتاب د بشري سرچینو د مدیریت په اړه ښه ماخذ دی.
مینه وال کولای شي دا کتاب په اکسوس او د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې په مناسب قیمت تر لاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د جراحي اساسات | سم انډریوز، لوک کسکزینی/ حسین احمد ثاقب | ۲۵۰ ؋ |
| ۲ | تحقیقي ژورنالیزم | سید نایل ابراهیمي/محمد اکبر نیازی | ۲۰۰ ؋ |
| ۳ | د خبرنې میتود | میرمحمد ظاهر حیدري، میرمحمد فاروق حیدري/العل الدین عاطف | ۲۷۰ ؋ |
| ٤ | کرنیز اقتصاد | محمد بخشوده، احمد اکبري/العل الدین عاطف | ۲۷۰ ؋ |
| ٥ | عمومي افکار | وینسنټ پرایس/اسماعیل اشنا | ۱۸۰ ؋ |
| ٦ | بازار موندنه | برایان ټریسي/اسماعیل اشنا | ۱۵۰ ؋ |
| ۷ | د واکمنۍ هنر | اندري دي ګویالومي/العل الدین عاطف | ۱۳۰ ؋ |
| ۸ | د ځان جوړونې هنر | نارمن ونسټ پیلي/اسدالله خان امرخیل | ۱۵۰ ؋ |
| ۹ | مالي محاسبه | محمد نعیم عظیمي/اسیف الرحمن | ۲۸۰ ؋ |
| ۱۰ | How to own your own mind | Napoleon Hill | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۱ | Speak | Laurie Halse Anderson | ۲۲۰ ؋ |
| ۱۲ | Zerolimits | Joe Vitale | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۳ | The Power Positive No | William Ury | ۲۰۰ ؋ |
| ۱٤ | Men Are From Mars, Women Are From Venus | John Gray | ۲۲۰ ؋ |
| ۱٥ | THE BOOK THIEF | Markus Zusak | ۳٥۰ ؋ |
| ۱٦ | The Giver of Stars | Jojo Moyes | ۳۷۰ ؋ |
| ۱۷ | The Bezos Letters | Steve Anderson | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۸ | Defy Me | Tahereh Mafi | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۹ | Every Thing is Fucked | Mark Manson | ۱۸۰ ؋ |
| ۲۰ | Blue Lily, Lily Blue | Maggie Stiffvater | ۳۷۰ ؋ |
| ۲۱ | تاریخ روابط خارجی افغانستان | سلطان شاه صفاري/استاد امان الله اماني | ۳۰۰ ؋ |
| ۲۲ | د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ | سلطان شاه صفاري | ۲٥۰ ؋ |
| ۲۳ | جنګ ناتمام در افغانستان | ویشال چاندرا/محمد امید | ۱٥۰ ؋ |
| ۲٤ | حقوق مهاجرت | سپیده غفاری نمین | ۲٥۰ ؋ |
| ۲٥ | جیولوجی عمومی (قوای داخلی زمین) | فضل مولا روفي | ۳٥۰ ؋ |
| ۲٦ | ځان وپیژنئ او مه ساده کیږئ! | محمود نامي/حسیب الله حکیمزی | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۷ | دوره ی دو جلدی راهنمای جامع گرامر تخصصی آلمانی | جسنعلي وحید مهر | ۸٥۰ ؋ |
| ۲۸ | سازمان جهانی پلیس جنایی (اینترپل) | مصطفی تقی زاده انصاری | ۱٥۰ ؋ |
| ۲۹ | راهنمای حقوق بین الملل محیط زیست | الکساندر کیس دینا شلتون/محمد سعید شفیعی | ۲۲۰ ؋ |
| ۳۰ | حقوق بشر امنیت فرهنگی تحت چالش ماهواره | عسکر جلالیان | ۱۸۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

همیانی

# د بریالي کېدو لپاره دا عادتونه پرېږدئ

ژباړه: عطامحمد میاخېل

آیا بریالي کېدو ته چمتو یاست، خو هغه ته د رسېدو لپاره له ستونزو سره مخ کېږئ؟ کابو د ځمکې د مخ د ټولو انسانانو خوښېږي چې بریالي شي، خو هغې ته د رسېدو په لارو چارو باندې نه پوهېږي.

د هغو کارونو په اړه ډېرې زیاتې مقالې شته چې باید د بریا لپاره یې تر سره کړئ، خو هغې ته د رسېدو لپاره باید له کومو کارونو لرې شئ؟

په دې لیکنه کې درته هغه کارونه ښیو، چې بریا ته د رسېدو په لاره کې یې باید له تر سره کولو څخه ډډه وکړئ.

۱ - ځان غوښتونکي اوسېدل

کله چې د خپل کاروبار لپاره شریک ټاکئ، آیا خوښېږي مو چې هغه شخص یوازې د خپل ځان په فکر کې وي او یا د هغه چا په لټه کې یاست، چې ستاسو اړتیاوو ته ارزښت ورکوي؟

کله چې په خپل کاروبار کې ځان غوښتونکي واوسئ، داسې ښکاري چې خپلو پېرېدونکو (مشتریانو) ته ارزښت نه ورکوئ. له ځان غوښتونکي نه اوسېدو څخه موخه دا نه ده، چې اصلاً د خپل ځان په فکر کې ونه اوسئ، ځکه که د خپل ځان په فکر کې نه وئ، نو څنګه کولای شئ چې خپل کاروبار ته وده ورکړئ؟

ځان غوښتونکي نه اوسېدل کولای شي لږ څه ستونزمن کار وي، ځکه ټول لومړی د خپل ځان په اړه فکر کوي او د نورو د احساساتو درک کول هم ډېر ستونزمن دي. په دې ټولو سربېره، په ورځني ډول له نورو سره د مرستې لپاره هڅې که هر څومره کوچنۍ هم وي، کولای شي ستاسو د کاروبار د پیاوړتیا، د اړیکو رامنځ ته کېدو او د ځان په اړه د ښه احساس د لرلو په تړاو له تاسو سره مرسته وکړي.

کله چې خپل وخت، خپلې پیسې او خپل ټلیفون د بل چا په واک کې ورکوئ، نه یوازې د نورو د ورځې له ښه والي سره مرسته کوئ، بلکې د خپلې ورځې له ښه والي سره مو هم مرسته کړې ده.

۲ - د وېرو منل

له څه وېرېږئ؟ له غنې؟ لوړ ځای؟ تیارې؟ ماتې؟ دا ټولې دودیزې وېرې دي، خو کله چې خپل ځان ته اجازه ورکوئ چې د دې وېرو قرباني شئ، بیا له تاسې هېڅ گیله نه ده پکار، ځکه تاسې به عقل له لاسه ورکړی وي او چا چې عقل له لاسه ورکړی وي، له هغه خو گیله نه کېږي.

کله چې خپله وېره په خپل حال پرېږدئ، هغې ته اجازه ورکوئ چې ستاسو په لاره کې په یوه خنډ باندې بدل شي او دا چاره کولای شي کاري څواک درنه واخلي.

که غواړئ چې له دې وېرو خلاص شئ، لومړی یې تر ټولو د کوچنۍ وېرې له منځه وړو پیل کړئ. دا کوچنۍ وېرې کولای شي له یوه نوي کس سره خبرې کول او یا په یوه نوي ځای کې د خوړو خوړل وي، په دې صورت کې لږ لږ کولای شئ چې له سترو وېرو سره هم مخامخ شئ. په دې لاره کې که له کوم چا څخه د روزونکي په توگه لارښوونه واخلئ، نو کار مو آسانه کېږي.

له وېرې څخه د خلاصون کیلي دا ده چې په یاد مو وي، دا وېرې د ټولو په ژوند کې شته او حتی که په وړاندې مو یې ماتې هم وخوړه، بیا بیا هم کولای شئ ځان و ازمویئ.

«وېرېدل عیب نه دي، وېرېدل په دې مانا نه دي چې ټاکل شوې ده زړور کار تر سره کړئ.» ـــ منډي هیل

۳ - لټ (ټنبل) اوسېدل

آیا تر اوسه مو داسې د جمعې ورځ لرلې چې ټوله ورځ مو په خوب تېره کړې وي؟ د داسې ورځو لرل کله نا کله بده نه وي، خو په عادت باندې بدلېدل آسانه کار دی. په ژوند کې په ورځنۍ توگه فعال اوسېدل، د بریالي کېدو یوه ډېره مهمه برخه ده.

هره ورځ باید هڅه وکړئ چې د ژوند هره برخه مو پیاوړې کړئ. دا برخې کېدای شي له نورو سره ستاسې اړیکې پالل، ورزش کول، د کور او جامو پاکول او یا هم نورې وي. کله چې د ژوند د ښه والي په لاره کې هڅې کوئ، نه یوازې د ډېرې بریا احساس به وکړئ، بلکې په عادت باندې بدلېږي او تل به د دې عمل ډېرولو په لټه کې وئ.

له ژمنې سره سم د موخې ټاکل له تاسو سره مرسته کوي، چې د خپل ژوند له ښه والي څخه ډاډه شئ.

۴ - د ډېرې وړتیا احساس

د خپل ځان په ارزښت باندې پوهېدل ډېر زیات اهمیت لري، خو په دې اړه فکر کول چې هرڅه ستاسو وړ دي، په بشپړه توگه توپیري چاره ده.

د وړتیا احساس کولای شي کاروبار مو په بشپړه توگه له منځه یوسي. که فکر کوئ چې ارزښت مو له هغوی څخه لوړ دی، نو ولې د هغوی لپاره کار کوئ؟ که نه شئ کولای چې پېرېدونکی (مشتري) جذب کړئ، نو هرومرو یوه ستونزه شته، باید دا ستونزه پیدا او د حل کېدو لپاره یې هڅې وکړئ.

که یوازې په یوه گوښه کې کېنئ او فکر وکړئ چې کاروبار مو ټول امکانات لري او تاسو د ټولو پېرېدونکو وړ یاست، نو په دې صورت کې به هېڅ ستونزه حل نه شي او سوداگري به مو له ماتې سره مخ شي. دا چاره یوازې ستاسو د کاروبار او ژوند په برخو پورې تړاو نه لري، بلکې ټول اړخونه په بر کې نیسي. په دې باندې پوهېدل چې بریا یوازې په شتمنۍ او څواک کې نه خلاصه کېږي، ډېر ارزښت لري، بریا په دې مانا نه ده چې شخصي ژوند مو څومره متوازن دی.

۵ - له زهرجنو کسانو سره ملگرتیا

هغه کسان چې تاسې ورسره ملگرتیا کوئ، په تاسو او ژوند مو اغېزه کوي. که په دوامداره توگه له هغو کسانو سره په اړیکه کې واوسئ، چې له سهاره تر ماښامه د ساتېرۍ په فکر کې دي او هېڅ گټور کار نه کوي، نو په ډاډ سره ویلی شم چې تاسو به هم دا چلند تکرار کړئ. که غواړئ چې بریالي شئ او عقل مو په سر کې وي، حتمي ده چې له هغو کسانو سره به ملگرتیا وکړئ چې تاسو ته د بریا په لور لارښوونه کوي.

ځینې ښایي ووایي چې یوازې د دې په خاطر چې دوستان مو بریالي نه دي، نباید هغوی پرېږدي؛ خو زه وایم پرې یې ږدئ چې د ژوند ښه مو بدله شي که نه همداسې په بده ورځ به یې. د پورته معیار لرل د شاوخوا کسانو لپاره چې تاسې ورسره د نورو په نسبت ډېر راشه درشه لرئ، ډېر مهم دي؛ ځکه هغوی له هغه څه څخه چې تاسې یې په اړه فکر کوئ، پر تاسو ډېر اغېز کوي.

بریا ته رسېدل اسانه نه دي، باید هغې ته د رسېدو لپاره هڅه وکړئ. د بریا لپاره د لیدلوري ټاکل ښایي د یوه ناشوني سفر په څېر تر سترگو شي، خو له پنځو معرفي شویو کارونو څخه ډډه کول کولای شي تاسو په سمه لاره باندې سیخ کړي. هدف دا نه دی چې د دې کارونو له تر سره کولو څخه لرېوالی به له ځانه سره څټکه بریا ولري، خو ښه پیل بلل کېږي.


## پامپیو: طالبان دې د خپلو بریدونو او جگړې شدت نور هم راټیټ کړي

قطر، پاکستان او ازبکستان ته د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیل‌زاد د سفر له پیل سره سم، مایک پامپیو او ملا برادر د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې کړې دي.

په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر وایي، په دې خبرو کې د دوحې د هوکړې پر عملي کېدو، بین‌الافغاني خبرو، د بندیانو تبادلې، د بهرنیو عسکرو د وتو او د تاوتریخوالي پر کمېدو بحث شوی دی.

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ملا برادر ته ویلي چې د دواړو لورو لەخوا باید د جگړې گراف نور هم راښکته شي.

هغه زیاته کړې: «بین‌الافغاني خبرو ته ژمن



یو، دا خبره موږ مخکې هم په څلونو کړې ده، مگر د بندیانو د خلاصون په بهیر کې د خنډ له کبله بین‌الافغاني خبرې ځنډېدلې دي.»

که څه هم طالبانو د بین‌الافغاني خبرو د پیل لپاره اساسي شرط د خپلو بندیانو ازادي ښودلې، خو افغان حکومت بیا تل د تاوتریخوالي پر کمېدو ټینگار کړی دی.

په ورته وخت کې د ملي امنیت شورا وایي، د دوحې تړون بریا او سولې ته رسېدل، په سملاسي ډول د تاوتریخوالي په کمولو او د مخامخ خبرو په پیل پورې تړلې مسئله ده.

د ملي امنیت شورا ویاند جاوید فیصل په خپل ټویټر لیکلي: «د فبرورۍ له ۲۲مې د تاوتریخوالي د کمېدو اونۍ راهیسې طالبانو هره ورځ په منځني ډول ۴۴ بریدونه کړي او یا یې هم هره ورځ ۲۴ ملکیانو ته مرگ‌ژوبله اړولې.»

دا په داسې حال کې ده چې د ملي امنیت شورا له دې وړاندې رسنیو ته ویلي وو چې د پاتې طالب بندیانو خلاصون د دې ډلې لەخوا د سولې لپاره د ښه نیت ښودو او د تاوتریخوالي کموالي پورې اړه لري. خو په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ازادۍ راډیو ته ویلي، دوی چمتو دي چې د ټولو بندیانو له خلاصون وروسته په یوه اونۍ کې بین‌الافغاني خبرې پیل کړي. په ورته وخت کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت هیله ښیي چې د امریکا هڅې د تاوتریخوالي د کمېدو او تر خوا یې د بین‌الافغاني خبرو د پیل لپاره زمینه برابره کړي.

## پوهنې وزارت: د طالبانو د هغه اعلان هرکلی کوو چې د ښوونځیو د پرانیستل کېدو اجازه یې ورکړې

پوهنې وزارت د طالبانو د هغه اعلان هرکلی کړی چې ویلي یې دي، تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې یې ښوونځیو ته د پرانیستل کېدو اجازه ورکړې ده.

خو دغه وزارت وایي چې دوی اندېښنه لري چې په دغو سیمو کې د ښوونځیو پرانیستل کېدل ښایي د کرونا ویروس د لا خپرېدو سبب شي.

دا په تېرو شاوخوا ۱۹ کلونو کې لومړی ځل دی چې طالبان په عام ډول تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې د ښوونځیو د پرانیستلو اعلان کوي.

د پوهنې وزارت ویاندې نورېې نزهت ویلي: «طالبانو په ځینو سیمو کې زموږ له کارکوونکو دا غوښتنه مطرح کړې ده چې د هغوی تر ولکې لاندې سیمو کې باید ښوونځي بېرته پرانیستل شي، خو موږ له طالبانو غواړو چې د عامې روغتیا وزارت صحي لارښوونې مراعت کړي او موږ هڅه کوو طالبانو ته قناعت ورکړو چې اوسمهال د ښوونځیو په بیا پرانیستلو سره کولای شي چې کار ستونزمن کړي چې د زده‌کوونکو او زموږ د تدریسي، اداري او خدماتي کارکوونکو او د زده‌کوونکو کورنیو ته د کرونا ویروس د خپرېدو سبب شي.»

خو په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین رسنیو ته ویلي، چې د ښوونځیو پرانیستنه اجباري نه ده.

شاهین زیاته کړې: «د اسلامي امارت د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمېسیون په هغو سیمو کې چې د اسلامي امارت تر لاس لاندې دي، د ښوونځیو پرانیستلو ته اجازه ورکړه. لاکن دا پرانیستنه اجباري نه ده، نه هم د متعلمینو حضور اجباري دی.»

دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره ښوونځي او نورې تعلیمي ادارې رخصت شوي دي. زیاتې تعلیمي او تحصیلي ادارې خپلو زده‌کوونکو او محصلانو ته درسونه په انلاین بڼه وایي.

هغه محدود شمېر ښوونځي چې له وړاندې د طالبانو تر ولکې لاندې سیمو کې فعال وو، ښوونکو او د ښوونځیو نورو مسوولینو ته معاشونه د حکومت لەخوا ورکول کېدل او په دغو ښوونځیو کې گډ درسي نصاب تدریسېده.

تر دې مخکې پر طالبانو تور پورې شوی چې د ښوونځیو په سوځولو، د ښوونکو په وژلو او له تعلیم څخه د زرگونه ماشومانو په محرومولو کې لاس لري، خو طالبانو په وار وار دا تورونه رد کړي دي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۰ |
| € | ۸۵,۵۰ |
| Rp. | ٤٦٣ |
| ₹ | ۹۸۵ |
| ¥ | ۹,۸۰ |
| £ | ۹۳,۵۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
If You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۱۱مه | د ۲۰۲۰ د جولای لومړی | ۵۶۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰٤:٤۳ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:٤٤ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵٦

## نړۍ




## چاووش اوغلو: فرانسه په لیبیا کې له سمندري غلو څخه ملاتړ کوي



د ترکیې او فرانسې ترمنځ د کشمکشونو په دوام، ترکي چارواکو فرانسه تورنوي چې په لیبیا کې له سمندري غلو څخه ملاتړ کوي.

د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر چاووش اوغلو ویلي چې فرانسه هڅه کوي چې د لیبیا له منل شوي او رسمي حکومت سره د ترکیې اړیکې خرابې کړي، خو دغه هېواد په خپله په لیبیا کې له سمندري غلو څخه ملاتړ کوي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د فرانسې ولسمشر ایمانویل ماکرون ترکیې ته خبرداری ورکړی و چې په لیبیا کې یې خطرناک رول نور ورته د منلو نه دی. نوموړي چې د جرمني له لومړۍ وزیرې انګېلا مېرکل سره یې په ګډه یوه خبري کنفرانس ته وینا کوله، زیاته کړه: «ترکیه باید د ټولو هغو پېښو مسوولیت ومني چې په لیبیا کې تېرېږي او انقره باید په دغه هېواد کې د خپلې مداخلې او سیاست په اړه باید وضاحت ورکړي». د فرانسې ولسمشر دغه راز خبرداری ورکړ چې په لیبیا کې د فرانسې اوسنۍ کړنې پر ګاونډیو هېوادونو سربېره د اروپا امنیت هم ګواښي او دا وضعیت نور ورته د منلو نه دی. د یادونې ده چې په لیبیا کې د معمرالاقذافي د رژیم له نسکورېدو وروسته مرکزي حکومت نشته او دغه هېواد په دوو برخو وېشل شوی او د واک پرسر پکې سختې جګړې روانې دي.

## مادورو: اروپايي ټولنه دې ژر تر ژره له وینزویلا څخه خپل استازي وباسي

د وینزویلا ولسمشر نیکولاس مادورو د اروپایي ټولنې استازو ته ۷۲ ساعتونه وخت ورکړی چې له دغه هېواد څخه ووځي.

مادورو له هغه وروسته د اروپایي ټولنې استازي ته له وینزویلا څخه د وتلو امر وکړ چې اروپایي ټولنې د هغه د ګوند پر ځینو چارواکو بندیزونه ولګول. په دغو بندیزونو کې په سفرونو محدودیتونه او د پانګو او سرمایو کنګل کول هم شامل دي.

نوموړی په دې هم پارېدلی و چې ولې اروپایي ټولنې د هغه سیاسي مخالف جان ګوایدو د وینزویلا د موقت ولسمشر په توګه پېژندلی و.

د وینزویلا ولسمشر دغه راز پر اروپایي ټولنې تور لګولی چې د ولسمشر ټرمپ په خوښه کارونه کوي. دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ له اروپایي ټولنې غواړي چې په وینزویلا کې دې د یو داسې ډیموکراټیک انتقال ننګه وکړي چې مادورو پکې شامل نه دی. سره له دې چې لسګونو هېوادونو ګوایدو د وینزویلا د موقت ولسمشر په توګه په رسمیت پېژني، خو مادورو لا هم په واک کې دی او پوځ یې په کنټرول کې دی. دغه راز چین، روسیه، ایران او کوبیا یې هم تر څنګ ولاړ دي او نوموړی د وینزویلا د قانوني مشر په توګه پېژني.


## ولسی جرگه: حکومت پیش از تعطیلات تابستانی مجلس نامزد وزیران را معرفی کند



هیئت اداری ولسی جرگه از حکومت خواسته که اعضای کابینه جدید را برای گرفتن رأی اعتماد پیش از تعطیلات تابستانی به پارلمان معرفی کند.
این در حالیست که اعضای مجلس از اول ماه اسد به تعطیلات ۴۵ روزه تابستانی می‌روند.
محمد میرزا کتوازی، معاون اول این جرگه گفته است که رئیس جمهوری با وجود تعهد و داشتن فرصت کافی هنوز نتوانسته وزیران پیشنهادی را معرفی کند.
در همین حال، شماری از اعضای مجلس پای درخواستی امضا کردند که مجلس به نامزد وزیران دو تابعیته رأی ندهد.
ولسی جرگه از حکومت انتقاد کرده که با گذشت سه ماه از مراسم تحلیف، هنوز نتوانسته کابینه جدید را معرفی کند.
محمدمیرزا کتوازی، معاون اول این جرگه گفته است، حکومت باید پیش از آغاز تعطیلات تابستانی ولسی جرگه اعضای کابینه جدید را معرفی کند.
آقای کتوازی افزوده است: «در معرفی کابینه باید لیاقت، توانایی و شایسته‌سالاری در نظر گرفته شود. تمام اقوام باید در کابینه جا داشته باشند. یعنی در کابینه باید از هر قوم وزیر باشد.
آقای کتوازی گفته است، نمایندگان مجلس تا ۲۰ روز به تعطیلات تابستانی می‌روند. او به همین دلیل تأکید کرد که کابینه باید پیش از تعطیلات تابستانی معرفی شود.
این در حالیست که محمداشرف غنی، رئیس جمهوری افغانستان در ۱۹ ماه دلو سال گذشته خورشیدی مراسم سوگند یاد کرد و در اولین سخنرانی خود تعهد کرد که کابینه جدید را به‌زودی برای گرفتن رای اعتماد به مجلس نمایندگان معرفی می کند.

## ژوند

## رښتینولي مو ارزښت لوړ ساتي



د خپلې هرې ناروا کړنې توجیه کول په دې مانا دي چې موږ ځان ته دروغ وایو. کله چې نور موږ ته دروغ وایي، فکر کوو چې توهین یې راته وکړ، ځکه یو چا ته دروغ ویل په دې مانا دي چې احترام ورته نه لری، نو ایا دا کار د دې ارزښت لري چې په تر سره کولو سره یې ځان ته بې احترامي وکړی؟ نه هېڅکله نه. رښتیني اوسېدل کلکې میړانې ته اړتیا لري؛ ځکه رښتیا ویل ډېر کله د سړي په زیان وي، خو تر ټوله ښه خبره دا چې مسوولیت منونکی یې اموخته کوي، کله چې مسوولیتونه په خپل وخت تر سره کړی او ویې منی، هغه ده چې دروغو ویلو ته نه اړ کېږی او خپل ارزښت لا لوړوی.

## د زنجبیل له ویټامینونو خبر شئ



پېړۍ کېږي چې په طب او اخلي پخلي کې له زنجبیل څخه ګټه اخیستل کېږي؛ زنجبیل د ویټامین اې، سي، اي، د بي ګروپ ویټامینونو، مګنیزیم، پوتاشیم، فاسفورس، سلیکان، اوسپنې، سوډیم، کلسیم او د بتاکروتنینو غوره منبع ده. د تغذیې برخې متخصصین په دې عقیده دي چې زنجبیل د هاضمې سیسټم د ټولو ستونزو لپاره ښه نسخه ده. په غذایي رژیم کې د زنجبیل ور زیاتول په دې مانا دي چې نور نو د معدې له هر ډول ستونزو سره مخه ښه کوی. د زنجبیل بله ځانګړنه دا ده چې په وینه کې د غذایي موادو جذب ته لاره هواروي او د هډوکو دردونه کابو کوي، وچ زنجبیل استفراق او سرګېچي له منځه وړي. د زنجبیل کارول د مور په خېټه کې د ماشوم له هغو ستونزو مخنیوی کوي چې مېرمنو ته د امیدوارۍ په وخت کې پیدا کېږي. زنجبیل د بدن د التهاب د له منځه وړو لپاره تر ټولو ګټوره پېژندل شوې ماده ده.




ماسټر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank